# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
| --- | --- |



درویش وردک

۰۴ فبروری ۲۰۱۷

## دوه شپیتم مجلس(په توحید کی)

### څوارلسمه(وروستی) برخه

شیخ عبدالقادر(رحمة الله علیه) وړاندی داسی وفرمایل:

زړه له خلکوسره بیلیږی اودانقیاد په کمال کی دخدای دامراوفرمان لاندی راځی. له خلکوسره بیل شه اوخپل خدای ته متوسل شه، اوپوه شه چی هرکله دخدای یاد کړ، محب یی، اوهرکله که دی دهغی عنایت دځان پروړاندی احساس کړ، محبوب یی. هرکله که په ژبه سره ذاکروی نو تائب یی، اوهرکله که سِراوباطن دخدای ذکروکړ، نوعارف یی.

تاته توصیه کوم ترڅودی کاملا خپل اخلاق له رذایلوڅخه پاک کړی نه وی دصالحینوله مصاحبت څخه ډډه وکړه، (ځان ددوی له ډلی مه بنیه). ترڅوچی دی یوه کوله اویا یوه خرقه بدلوی، فساد دی پرصلاح غالب دی. پس باید تولی خودخواهی له ځانه لیری کړی، ترڅودصلحاوده مناستی وړتیا ترلاسه کړی.

ای دخدای بندګانو،دتل پاتی ژوند خواته بیړه وکړی، بیړه وکړی هغی چینی خواته چی هیڅکله یی اوبه نه وچیږی، هغه درګاه ته مخ واړوی، چی هیڅکله نه تړل کیږی، په هغه سیوری کی کښینی چی هیڅکله زوال نه مومی.

دخدای عزّوجلّ اوامرپرتادین دی، دهغی په اداءکی زیاروباسه، هرکله که دی دخدای په غوښتنه کی بل شی غوره کړل اوپورته دی وګڼل، ظلم دی کړی، اوکه دخدای خواست اواراده رد کړه، دکفرسره مخ شوی یی. له دنیا څخه داړتیاډپوره کولو لپاره ګټه واخله، له استکثار اوډیرغوښتنی اوپه لهواولعب بوخت کیدوڅخه ډډه وکړه. هرکله که داسلام تحقق ومومند، ځان به خدای ته تسلیم کړی، اوخپل موجودیت به دهغی دقدرت په لاسوکی کښیږدی.

خپل ظاهر اوباطن دتقوی په جامو پټ کړه، ترڅو دحق عنایت تول ناوړه صفات مړه کړی، اوپه ستایل شویوخصالودی بیرته ژوندی کړی، مومن دخلق په لیدوړ اودحق په لید ژوندی دی، دخلق دیدار ذلت اوخواری بولی(کله چی اړیکه دمتعارف اومطلوب حالت څخه ووزی اوددوی لپاره په بیلابیلوډولونو دالوهیت جنبه ونیسی) اودحق یاد دمقام رفعت. رېښتینی اوصادق راهنمایان اومرشیدین چی کله یو مرید ووینی هغه ته ددنیا دنفس په وژلوامرکوی. هرکله که زړه ددی مرتبی په نیولو بریالی شو(یوازینی هدف) محبوب اومطلوب ته رسیدل دی، دی مرحلی ته درسیدو په محال، لومړی باید مشترک حلال ترک کړی، بیا مباح ترک کړی، اویوازی په مطلق حلالو بسنه وکړی چی هغوی عبارت دی له: دحکم اوعلم اجماع اودظاهراوباطن اتفاق، داسی چی کله سالک دباطن سترګی پرانیزی دځان په چارپیره دانبیاو ارواح وینی چی ورته دخوړو دستوروركوی.

په پېنوودرېره اوخلکوته دهیلی اوډار، له ستاینی اوبدګویی، اوله ظاهر اوباطن څخه یې لیری والی وکړه، دغوښتنې لاس دخدای لورته وغزوه، ترڅو غنی اوریښتنی شتمن ومومی، ورسته له اثباته دمحو، وروسته له وجوده دعدم، وروسته له کدورته صفا ،وروسته له بیلتون وصل، وروسته له فقد څخه لقاء، دزړه صحت پرته دڅبی له حضور، دباطن درستی پرته دزړه له وجوده ، اوبالاخره دباطن صحت پرته له وجوده اوسه.( هُنَالِکَ الْوَلَایَةُ الْحَقّ)-( اِذَا شَاءَ اَنْشَرَهُ).

ای بلهوسه، دنیوی اسباب اوارباب له ځانه لیری کړه، ترڅو واصل شې، اوهغه څه چې دې ترک کړی، هغوی به دې بنه راغلاست ته راشی.

هرخواړه داخلاص په طبق حاضردی. معنوی طبیب دزړه په کورکی، اومحبوب دقرب په خونه کی دی. یوسړی جګ شو اوسوال یی وکړ، شیخ(رضی الله تعالی عنه) ځواب ورکړ، ډېره وکړه، ګورم چې ستا سوال دنفس له هوی څخه سرچینه اخیستی، ما مه آزمایه، زه دحقیقت توره په لاس کی لرم، (وَيُحَذِّرُكُمُ اللهُ نَفْسَهُ)-«خدای تاسو له ځانه برحذرکوی. سوره آل عمران آیه ۲۸».

ولی ته ای عامی، خدای له خپله عذابه ساتنه کوی، اوته ای خاصه، تا له خپل نفس څخه لیری کوی، او ای خاص الخاصه،تاله تقلیباتو اوبدلونونو چې په خپل علم کی یی لری، هوشداردرکوی، تاته ای عامی هشداردرکوی، ترڅوپه خپلو ظاهربینو سترګو اوغوږو باورونکړی اوپه خپل توان اودارایی خوښ نشی،اودآخرت سرای ته ځیراوسی، اوخاص اوخاص الخاص خبروی ترڅو په غفلت کی ونه لویږی، اوداتول دزړه په کمال موندنه کی دی ځکه هرکله که زړه کمال وموند، هغه څه چې دآسمانونو اوځمکی ترمنځ دی نشی کولای ورته زیان ورسوی. اودا هغه مقام دی چې یوازی په آرزو اوهیلو نه ترسره کیږی، بلکه په بنایستګی اواهلیت اوزهد اوتقو میسره کیږی.

یوی مرید حکیم ته راغی اوپه مخ کی یی کښیناست اوویل یی: زه جنت بقعه آرزولرم ، اوبل څه نه غواړم، حکیم ورته وویل: ای کاش چې په دنیا کی دی هم داسی قناعت کولی، (ځکه په دنیا کی قناعت داخروی تمنیاتو دحصول سبب ګرځی).

مرګ حق دی، پس همدااوس مرشه. پوهیږی چې مړی لره ناسته اوپاسته، عطااوبخشش، امید اورجا، دوستی اودښمنی نشته، پس ته هم دګتی په جلب اودضررپه دفع کی دمړی پشان اوسه، اوپه خلکواوپه هغوی له تکیې مړ شه، اوپه وینا اوکړو کی صادقه اوسه، ځکه له مړی څخه دکذب اوریاء انتظارنشی کیدای.

وای پرتا! له ماڅخه دنیا غواړی؟ زما اودنیا ترمنځ داسی لیری والی دی لکه دمشرقه ترمغربه، زه خپل نصیب دتوحید په لاسونو اخلم، ته باید له ما آخرت وغواړی،اووغواړی ترڅودی دحق قرب ته په رسیدوراهنمایی کړم.

(ای مسلمانانو)! پوه شی چې دمحمّد(صلی الله علیه وسلم) ددین دیوالونه اودهغی بنسټ وران شوی، ای دمسلمینو تولنی، بیره وکړی ترڅو دهغی بنسټ بیاورغوو.

**لویه خدایه! مونږ دغفلت له خوبه راویښ کړی، یوبل ته موګټور ورګرځوی، مونږپه خود کړه ترڅومو نفسونه پاک شی. آمین..**

دواعظ له شرایطو یودادی چې دی خپله مومن اوسی، ځکه نه ښایی چې کس خپله دخلکو بنده وی اوبل خالق ته راوبولی ،مګرداچې اول خپله حق ته رسیدلی وی.

وای پرهغه چې له ځان خدای اورسول سره خیانت کوی، نورو ته په نیکی امرکوی ولی خپله دنیک عمل څخه لیری دی، له بده عمله نهی کوی، ولی خپله په هغی ګرفتاردی اوعمل نکوی، پارسایی په ظاهری جامو اوژیړ مخ نده، دباطن صفا اواخلاص غواړی. دخدای دوستانو لره هریو په زړه کی شحنه اوساتونکی لری چې تل دنفسی هیلو سره

په مبارزه کی وی. پیغمبراکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی دی: (رَأَیْتَ أَقْوماً تُقْرَضُ شِفَاهُمْ بِالْمَقَارِیضِ، فَقُلْتُ مَنْ هَؤُلاءِ؟ قَالَ عُلَمَاءُ اُمّتِکَ)-«یوه ډله می ولیده چی خپلی جامی یی په قیچی خیرلی، ومی پوښتل هغوی کوم کسان دی؟ وویل : ستادامت علما.».

تبارک وتعالی خدای ځینو پیغمبرانوته په خطاب کی فرمایلی: مواظب اوسی چی تاسو غِرّه اوفریفتگی ونه نیسی، یعقوب (علیه السلام) په لومړیو کی ډیر په یوسف(علیه السلام) پسی ژړل، ولی وروسته په خود راغی، اوپه خپل ځان یی ژړل، دخپلی پیغمبری له عصمت څخه یی ویره درلوده.

ولی تاسو یوازی په ظاهری غوړو قناعت کوی، اوپه درونی غوړو چی باید دحق اسراراوورى لړه پاملرنه کوی. ای فرمایگانو، ای وچولرگیو چی یوازی دسولو لپاره پکاریږی، یوه اوسی چی عزّوجلّ خدای فرمایلی دی: (أَلَّا اِلَی اللهِ تَصِیرُ الْأُمُور)،زه ستاسو ساتونکی اوشپون یم، اودغه مقام می هغه وخت ترلاسه کړچی دتوحید په توره می ټول دنیوی علائق پری کړل. یوه شی چی ستاسو حمد اوذم اواقبال اودربار زماپروړاندی یوشان دی، که څه هم ډیروکسانو زما خدمت کړی اوزما په مدح لگیادی، ولی زه هرڅه له خدایه بولم(نه له مخلوقه) هرخدمت چی ستاسو لپاره ترسره کړم صرفا دخدای درضا لپاره دی، که یی امکان درلودای دهریوه سره به قبرته تللی وای، ترڅومی دگمارل شویوملائکوځواب ورکړی وای، تردی حده ستاسو مومنو وروڼوله نیکمرغی سره مینه لرم.

**خدای چی په هربنده دعنایت نظرولری، خپله مینه دهغی په زړه کی ځایوی.**

له هغوکسانو سره چی په دونه دنیا خوښ دی، مه کښینه،بلکه له هغوی سره همناستی شه چی دآخرت غم ورسره وی، له هغی سره چی خاندی نه، بلکه له هغوی سره کښینه چی ته هم ورسره وژاړی، دروزگارله لوړهمتوسره اوسه، خپلی اړتیاوی دحق له درگاه څخه غواړه، دقرب په درشل تکیه وکړه، دخدای دوستان چی له صدقاتوڅه ترلاسه کړی، نوهغه دفقیرانوترمنځ ویشی، بیا کورته راځی اوښځی یی ورته وایی: (هَلْ فَتَحَ شَیْئٌ؟ فَإِذا قِیْلَ لَا یَقُولُوْنَ اِنّی اِذاً صَائِمٌ)-«آیا زمونږ په هکله څه پراخی ترلاسه شوی؟ کوم څه مونږته هم رسیدلی؟ اوکه به یی دنه ځواب واورید،نوویل به یی: مونږتراوسه لاروژه یو». دروژی نیت به یی دحق په شکرانه سره تجدید کاوه اوهیڅکله به یی له کمی څخه شکایت نه کوو.

یوه سړی دشیخ(رضی الله تعالی عنه) په مجلس یو اسویلی وکیښ اوویل یی: (الله)، شیخ وویل: ډیرژربه له دی شخص څخه وپوښتل شی چی آیادغه کلمه د(الله) دی له درست نیته وکړه اوکه دنفاق اوریا له رویه؟

نن سبا داسی ورځ ده چی دآزمایښتونو له پټکیانو سره مخ یو، هرچاسره چی دزغم توان دی کښینی، اوهغه لره چی توان نشته ځی دی. وروسته شیخ (رضی الله تعالی عنه) اسویلی وایست ، اوډیرخلک دده سره په اسویلی اوپه ژړا ولاړ سول، ترڅویومدت تیرشو، خلکو یی په شاوخوا فریادونه کول،اوچوغکی همداسی ناستی وی، ترڅویوه له یارانو وغوښتل هغه ونیسی، چی الوتونکی والوته.ټول حاضرین په ژړا شول، اودعا اوانابی لاسونه یی دحق درگاه ته پورته کړل، وروسته شیخ(قدس سره) له مجلس څخه بهرشو ، پداسی حال کی چی ډیرخلک ورسره ودرصافی مسجد ته لاړ اوویی فرمایل: داآخرزمان دی،خدایه له شره یی تاته پناه دروړو، له هغی تښتوولی په قضا اوقدرهم راضی یو.

هوښیاراوسه چی دین ددنیا قربانی نکړی، آبرودی وساته، کاراوکسب کوه ترڅوپریشانه نشی، دخدای په شتون کی ځان له خلکو بی نیازه وگڼه.

ابراهیم خواص(رحمة الله علیه) وویل: (یوه زمانه می په بیابان کی ژوند کاوه، اوله چاسره می نه کتل،یوه ورځ له یوه ځایه تیریدم،یوځوان می ولید چی ولاړدی، ورته ومی ویل: له کومه ځایه راځی؟وویل هو، ومی ویل کوم ځای ته ځی؟ وویل: هو،ورته ومی ویل چی که له هوسره صادقه یی نوځان په هوکی فنا کړه، په هماغه ځای یی اسویلی وکیښ

اوولوید اوحق ته ورسید،زه پدی لټه کی شوم چی ورته قبردرست کړم اوهغه ښخ کړم، لږ تری لیری شوم،کله چی راغلم هغه نه و، هاتف می په غوږکی وویل: په هغی پسی ملک الموت لټه کوله، جنت هغه وغوښت ویی نه موند، اورهغه وغوښت، پیدایی نکړ، ومی ویل هغه اوس چیری دی؟ ځواب یی ورکړ: (فِی جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ فِی مَقْعَدِصِدْقٍ عَنْدَ مَلِیْکٍ مُقْتَدِرٍ)-«په باغونو اوچینوکی، دصداقت په ځای کی خدای ته نیږدی. سوره قمرآیه ۵۵».

ای بالهوسه، له رینتینو دروازو کورته راشه، دفناله دروازی، دحق په ذات کی فنا سره له طاعت اوعبادت. دقرب دمقام جلیس اوسه، دحق دنعمت په خوان میلمه اوسه دده له بی زواله نعمتونو ګټه واخله، دهغی دآسمانونو اوځمکو داسرارو په پیژندنه پیل وکړه. ته ددیوال شاته یی دیوه فرسخ په ضخامت، اوغواړی په هغه ستنه چی په لاس کی یی لری دځان لپاره دتیریدو لاره جوړه کړی،داممکنه نده. ولی اولیاءالله چی هرکله ددی دیوال شاته ورسیږی، زرووړنه یی پرمخ پرانیستل کیږی، له هربابه داخل ته بلل کیږی.

نعمت واخله اودمنعم شکرانه پرځای کړه، نعمت ته وګوره اوځیرشه چی آیا دادخدای عطا ده اوکه یی دقهراونقمت وسیله؟ په ظاهره مه غولیږه، منعم مه هیروه، ښی اوکیڼ خواته مه ګوره، سترګی له منعمه مه اړوه، اوددنیا له عجوزی نه څه مه غواړه، ځکه کیدای شی مسموم وی. هرکله که دی په طعام لاس وموند، خپل وزیراومشاورچی هماغه کتاب اوسنت دی مراجعه وکړه، که یی درته په اکل فتوی درکړه، وبیی خوره، اوکه یی منع کړی، ډډه وکړه اوبیره مه کوه، هرکله که دی له نفس سره مخالفت اومجاهدت وکړ، هغه به هم ستاسره همغږی شی، اود(یَاأَیَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ) ترخطاب لاندی به راشی، اوله زړه څخه به دملهم مصلحت لاس ته راوړی، اوزړه به هم له سراوباطن اوباطن به دحق عزّوجلّ څخه آګاه شی.

اوشیخ( رحمة الله علیه) پدی حال کی وویل: **خدایه مونږستاپه لټه (طلب) کی یواوستادوستان یو، مونږ مه خواروی!**

اوبیایی وفرمایل: په غیرخدای بوخت کیدل لهواولعب دی اوګناه، اودقرب له دایری بهرکیدل، له اولیاء څخه داسی کسان شته چی ملائکی یی لیدلی، یوله هغوی شام ته نیږدی په یوه مسجدکی ناست و،دلوړی په حال کی یی له ځان سره ویل: ای کاش اسم اعظم می زده وای، ناڅاپه یی ولیدل چی دوه کسان یی خواته راغلل، یوه هغه بل ته ویل: آیا غواړی چی درته اسم اعظم زده کړم؟ ځواب یی ورکړبلی هو، وویل :ووایه(الله) هغه سړی له ځان سره وویل چی زه خوداوایم،بیایوه له هغودوڅخه وویل، زمونږ مقصد له اسم اعظم څخه ظاهرا الله ندی، کله چی د الله په ویلو سره اسم اعظم یاد کړی، داسی چی پرته له الله دی بل څه په زړه کی نه وی، وروسته دواړو آسمان خواته عروج وکړ.

ظاهر له خلق سره اوباطن له خالق سره ولره، دحق پروړاندی له دنیا اومافیها څخه فارغ مقیم شه، بیابانونو اودښتونو ته لاړشه، اورینښتینی ایمان په خلوت اوتنهایی کی لاس ته راوړه.

صالح(عبد) ځان اوعیال اواو اولاد خدای ته پریږید، ولی فاجر سړی عیال اواولاد درهم اودینارته پریږید، لذا پایله یی نیاز اوتنګدستی ته ختمیږی، ته هم که داسی اوسی نوپوه شه چی زړه دی ددنیا دحب له خوسکی ګټه اخیستی اودخدای دقهروړیی.

**لویه خدایه، په دنیا اوقیامت کی زمونږیاراومعین اوسه، دنیامو ددین دپیاوړتیا لپاره نصیب وګرځوه، اوآخرت مودخپلی لقاء لپاره، لویه خدایه، له هغه نه چی دریا رنګ لری ،لیری موکړه. آمین!**

هرکله که صالح کس زما خواته راشی، هغی ته وایم، که سبا تالره مکانت وی نو مونږ هم له ځان سره کړه اوکه مونږ کوم مقام درلودتابه له ځان سره کړو. زما وینا په خلوص نیت سره واوره ترڅو رستګارشی اوزه به هم دخپل کلام دصدق په وجه رستګارشم.

خلق دری ډوله دی: فرشته، شیطان او انس، فرشتی کلی خیردی ، شیطان مطلق شر، اوانس له دواړو څخه مخلوط، یعنی هم دشراوهم دخیراستعداد په انسان کی شته، هرکله که دعبد په وجد کی خیرپرشرغلبه وکړه، نوفرشتو ته ملحق کیږی. اوکه شرپه خیرغالب و،نو شیطان ته ملحق کیږی.

(ای قومه) اسلام په ژړا دی، لاسونه یی دفریاد رسی اودادخواهی په علامه ددی فاسقانو اوفاجرانو له لاسه پورته کړی دی، له دی بدعت گزارانو اوگمراه کوونکی څخه په فریاد دی، له دی ستمگرانو څخه چی ددرغوجامی یی په تن کړی اوددین دعوه کوی، په خروش کی ده.

سپی په ښکاراودکورپه ساتنه اوحراست کی له خاوند سره مرسته کوی، اودخاوند په لیدو سره لکی خوځوی، داتول دیوی گولی ډوډی لپاره ترسره کوی چی هغی ته یی ورکوی، اوته باوجود چی له ټولو الهی نعمتونو متنعم یی، دهغی اطاعت نکوی، اوحدود او اوامر اونواهی یی مهمل پریږد.

(ای دخدای بنده) دفقراوصبرسره کوم شی مه برابروه، دخدای په شتون کی ځان له هرڅه بی نیازه وبوله، ځکه ډیرکسان چی ظاهری توانگری ترلاسه کوی، له خدایه بی خبره دی، اوددنیا فانی ژوند په خدای اوآخرت باندی غوره کوی، دشهواتو اونفسانی غوښتنو ارضا دحق په اوامرو پورته گنی، حرام په حلالو، افطارپه روژه، غفلت په بیداری، معصیت په توبه ترجیح ورکوی.

وای پرتا! ستاپتی په ښکاره کیدودی!! له رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) څخه واوره چی فرمایلی یی دی: (لَاَنْ تَسْمَعُ بِرَجُلٍ خَيْرٌ مِنْ اَنْ تَأْ تِيْهُ وَلَاِنْ تَأْتِيهِ خَيْرٌ مِنْ اَنْ تُخْبِرَهُ فَاِذا خَبَرْتَهُ مَقَّتُهُ وَمَقَّتْ عَمَلُهُ)-«ممکنه ده مخکی له دی چی دیوه سړی سره دی لیدلی وی، له صفاتویی داسی شیان واوری چی ترلیدو وروسته درته څرگنده شی چی داسی ندی، اوپه عکس ښایی دځینو دیدارپه اخباروباندی بهتره وی».

مومن په دنیا کی پادشاه اوپه آخرت کی معززدی، عمل یی دخدای اطاعت اوفرمانبرداری ده، اوله معصیت څخه بیزاری ، په ظاهراوباطن کی یی دنیا ته شا کړی ده.

ای زویه ، هرکله که دخوړو اویا څښوته لاس وروړ، ووایه چی ترهغی یی نه خورم چی راته معلومه شی چی ددنیوی علاېقوپه زهرو مسوم نه وی. (وایی): ای نفسه هغه له لاسه وغوځوه، ترڅو دآخرت دخرچی ناظرراشی اوصحت یی تائید کړی، وروسته تری استفاده وکړه، اودځان اودنیا ترمنځ دروازی وتړه.

دغه داډ اوآرامش چی دی په غیروحاصل کړی څه دی؟ تاته څه گټه رسوی؟ لاسونه دحق دمردانوپه لمن کی واچوه، هغوی چی ددنیا په پرتلاطمه دریاب کی غرق شوی دنجات ساحل ته رسوی، هغوی چی ددنیوی لذایذوبیماران تداوی کوی، زیاروباسه چی هغوی وړومی، اوکه دی ونه موندل په خپل حال وژاړه.

قدردهغوی پرمخ چی له قضا سره راضی دی، گزارکوی، لاسونه یی نیسی، اودقرب باب ته یی هدایت کوی، پس له قدرسره مخالفت مکوه اودخدای له غوښتنو سره موافق اومرافق اوسه.

یحیی بن معاذ(رحمة الله علیه) ویلی: **(دصدیقینو وینا دانبیاو دکلام ځای ناستی دی، خبری یی له خدایه اودخدای لپاره دی».**

په هدیره کی کښینه اوله مړیو وپوښته چی له تاسوسره څرنگه چلند وشو؟ کوم ځای ته لاړی؟ اهل اواولاد اوکورونه موڅه شول؟ځوانی اوځواک موڅه شو،امراونهی موچی کوله څه شوه؟ اخذاوعطا اودوستی اودشهوتونو ارضا موڅه شوه؟ وایی به چی داسی ځواب به درکړی چی: له هغه څه موچی ترشا پری ایښی پښیمانه یو، اوپه هغه څه موچی دنن لپاره وړاندی کړی و،خوش یو. ته هم پوه شه چی ژربه دمړیو په لیکه کی ورددیږی،او اوقبربه دی پرته له یاره اویاوره په غیرکی ونیسی، پس هوښیاراوسه اوعاقل، اودهغی ورځی اندیښنه مه هیروه.

یوه ورځ یوه جنازه دشیخ(رضی الله تعالی عنه) مجلس ته راوړل شوه، حاضرینو ته یی په خطاب کی وویل: داوینی چی څرنګه مرګ تری هرڅه هیرکړی دی، تردی حده چی یو له خپلوانوهم نه پیژنی، همداسی کله چی دحق معرفت په زړه کی ځای شو، داسی هغه مدهوش کوی اوله دنیا یی لیری کوی، چی پرته دحق له ذاته دبل څه په هلکه فکرنکوی.

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخرة حسنه وقنا عذاب النار».** آمین.

تمت بعون الله تبارک وتعالی.